# ځوک چې له کوم قوم سره مشابهت وکړي نو دی له هغوی ځخه دی

له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی وايې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: "ځوک چې له کوم قوم سره مشابهت وکړي نو دی له هغوی ځخه دی".
[حسن] [ابو داود او احمد روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي، ځوک چې د کافرانو، فاسقانو او یا نیکانو سره مشابهت وکړي؛ چې د هغوی له ځانګړنو عقایدو، عبادتونو او یا رواجونو څخه یو څه تر سره کړي، - نو دی له هغوی ځخه دی؛ ځکه چې په ښکاره ورسره مشابهت د دې لامل ګرځي چې باطني مشابهت ورسره پیدا شي، او پدې کې شک نشته چې له یو چا سره ورته والی له هغوی څخه د اغېزمنېدلو په پایله کې کیږي، او کېدی شي هغوی سره د مینې کولو، هغوی ته د درناوي ساتلو لامل شي او دا کېدی شي انسان دې ته اړباسي چې په باطن او عباداتو کې ورسره مشابهت پیدا کړي، الله - جل جلاله - دې ترې مونږ وساتي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5353

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee